# درویش دراني: یو مزاحمتي شاعر (تحقیقي او تجزیاتي جاج)

# Resistance in the Poetry of Darwesh Durrani: A Critical and Analytical Study

Usman Ali *

**Abstract:**

This study analyzes the concept of resistance (Mazahamat) in the poetry of Darwesh Durrani, a significant contemporary Pashto poet . It explores how his poetry functions as a structured intellectual response to political oppression, social injustice, economic exploitation, and cultural distortion . The research argues that Durrani's poetry goes beyond emotional expression and develops a conscious discourse aimed at awareness, unity, and ideological resistance . Through selected textual analysis, the study highlights how his poetic voice encourages intellectual struggle, critical thinking, and collective consciousness among the Pashtun society . The paper concludes that Durrani's poetry represents a strong tradition of resistance literature in modern Pashto poetry .

**Keywords**: Mazahamat Darwesh Durrani, Pashto Poetry, Cultural Resistance, National Identity, Class Struggle, Contemporary Pashto Literature, .

پښتو ادب د تاریخ په هر دور کښې د احساساتو او ښکلا د اظهار سره سره د ظلم، جبر او ناانصافۍ په وړاندې هم ګویانه پاتې شوے دے۔ په معاصر دور کښې دا رجحان نور هم منظم او شعوري شکل یې اختیار کړے دے۔ په دې پس منظر کښې د درویش دراني شاعري ځانګړې اهمیت لري، ځکه چې هغه د خپل فن د لارې د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فکري استحصال خلاف منظم ادبي او شعوري مؤقف په ډاګه کوي۔ دا مقاله د هغه د شاعرۍ د مزاحمتي اړخونو تحقیقي او تجزیاتي جاج اخلي او دا ښائي چې هغه څهٔ رنګ د ادب په ژبه د شعور، بېدارۍ او بدلون پېغام خپل اولس ته وړاندې کوي۔

* Lecturer, pashto department post graduate college swabi college

مزاحمت هغه فکري او ادبي رویه ده چې د جبر، استبداد او ناانصافۍ خلاف د ردعمل په توګه راولاړېږي. د دې اصطلاح جرړه که څه هم په عربو کښې راټوکېدلې ده خو د نوي ادب په دنیا کښې د مارکسي، ترقي پسند او پس استعماري فکر سره پیوست شوې ده. مونږ که بذات خود د مزاحمت تعریف کوو نو هغه به دا ډول وي:

"د انساني ژوند هغه قدرونه چې د انساني فطرت د خوښې وړ ګرځېدلي دي. د دغه قدرونو د پالنې په لړ کښې چې څومره خنډ ؤ خارونه مخې ته راځي هغه که د جبر، تشدد، ناانصافۍ، انسان وژنې اؤ یا د داسې نورو انساني فطرت د ناخوښو عملونو اؤ کړنو په شکل کښې وي. د هغې خلاف غږ پورته کول اؤ په عمومي توګه دغه خنډ ؤ خارونه لۀ مخې جارو کؤل مزاحمت دے۱."

مزاحمتي ادب د ښکلا د بیان ترڅنګ د شعوري بېدارۍ هڅه کوي، په نظام تنقید کوي او د معاشرې د بدلون غوښتنه کوي.

د خالد حسرت د مزاحمتي شاعرۍ تجزیاتي مطالعه کښې څېړنکار بقلم خود د مزاحمت د تعریف په لړ کښې د سلیم راز قول رانقل کړے دے چې دا ډول دے:

"مزاحمت د حرکت حرارت اؤ قوت نوم دے مزاحمت رواني ده، ځواني ده، توانائي ده، مزاحمت یو عمل دے، زغل دے اؤ مزل دے بلکې ژوند دے ژوند د مزاحمت نوم دے اؤ د ژوند مفهوم دے۲."

د تاریخ په پاڼو کښې که د مزاحمت روایت ته وکتلے شي نو په انساني تاریخ او اسلامي تاریخ دواړو اړخونو کښې د مزاحمت تسلسل برقرار په یو نا یو شکل کښې پاتې شوے دے. هرکله چې د یو قام د غلامۍ جغ کښې سر ننښتے دے نو د لیکوالو تخلیقاتو یې د مزاحمت اثر قبول کړے دے او دغه اثر بیا په تحریک بدل شوے دے. راج ولي شاه خټک د مزاحمت د روایت په سلسله کښې لیکي:

"نوابادیاتي نظام کښې چې د کومو غلامو هیوادونو لیکوالو ادب تخلیق کولو اؤ خلقو ته به یې دادب لۀ لارې د ازادۍ تعلیم ورکولو اؤ دا استعماریانو خلاف به یې مزاحمت کولو نو هغې

ته مزاحمتي تحریک وئیلے شي[۳]۔

"هر څو کهٔ د مزاحمت اصطلاح پهٔ پښتو ادب کښې پهٔ جدید دور کښې راپورته شوې ده خو د مفهوم اؤ معنویت لهٔ مخې ډېره لرغونې ده اؤ د کله نه چې ادب پهٔ مخ د زمکې ادب سترګې پرانستې دي نو مزاحمت ورسره سم وجود موندلے دے۔ مزاحمتي ادب د جدید دور اصلاح ده اؤ د مزاحمت رویه اؤ د دې سره تړلي تصورات اؤ احساسات بې حده پخواني دي۔ پهٔ مخ د زمکې چې څومره پورې د انسان تاریخ غوزېږي دومره ورسره د مزاحمت تاریخ غوزېږي[۴]"۔

پهٔ دې لړ کښې د اردو لیکوال سلیم اختر دا ډول ګویانه شوے دے:

"مزاحمتی ادب جدید دور کی اصطلاح ہے مگر مزاحمتی رویہ اور اس پر مبنی سوچ اور احساس بے حد قدیم ہے۔ غالباً اتنا، ہی قدیم جتنی انسان کے آزاد رہنے کی خواہش مزاحمتی رویہ / مزاحمتی سوچ مزاحمتی ادب دوسری جنگِ عظیم میں جرمنی کے زیر تسلط علاقوں بالخصوص فرانس میں جرمن اقتدار کے خلاف قوم پرست آزادی پسند اور محب وطن افراد نے جو زیر زمین تحریک شروع کر رکھی تھی ۔ اس کے لیے یہ سب الفاظ استعمال ہوئے تھے اور کم و بیش اسی مفہوم میں مروج و مقبول رہے ہیں[۵]۔"

ځنې ادب پوهان دا خیال لري چې ادب تخلیق کول فطرتي یوه مزاحمتي رویه ده۔

ابرار احمد پهٔ دې لړ کښې لیکي:

"ادب تخلیق کرنا، بذات خود ایک مزاحمتی عمل ہے ۔ کیونکہ ادیب اپنے گرد و پیش سے CONFORM نہیں کر پاتا اور اس کشمش کی بنیاد پر وہ ادب تخلیق کرتا ہے ایک طرح سے تو سارا ادب مزاحمتی ہے اور ہر ادیب باغی[۶]۔"

اسامه العشر د فلسطین د مزاحمت د روایت پهٔ باب کښې خپل خیال دا ډول پېش کړے دے :

مزاحمتي ادب د هغه انساني ادابو نه دے چا چې ډېره زمانه ظلم اؤ جبر تېر کړے وي دا ادب د هغه ظلم سره د ملګرتیا اؤ د هغې د مرستې خلاف تصور پېدا کوي اؤ د ازادۍ سوچ ورکوي۷ ـ"

بیا وړاندې لیکي:

"دا ادب صرف شعر و اشاعت پورې منخصر نه دے بلکې د قلم تصویر طنز متل لیکنې اؤ عملي مهارت پورې هم محدود دے ۸ـ"

سرتاج عالم د مزاحمت د ابتدا په لړ کښې لیکي:

"د مزاحمت ابتدا د هغه وخت نه شوې ده کله نه چې انسان په زمکهٔ قدم ایښودے دے اؤ د دغه نه مونږ ته نزدې څهٔ نا څهٔ صورت کښې رارسیدلے دے ـ د وخت سره سره مزاحمت خپل شکل ضرور بدل کړے دے خو مقصد اؤ مرام یې خپل نهٔ دے پرېښودے ـ یعنې د هر جابر، ظالم مخکښې یې سر نهٔ دے ټیټ کړے اؤ ځان یې هسکهٔ غړې ساتلے دے۹ـ"

پهٔ دې لړ کښې ښځنکار بقلم خود د خالد حسرت پهٔ پورته یاده شوې ښېړنه کښې لیکي:

"دا یو منلے شوے حقیقت دے چې کله نه انسان پهٔ دې دنیا کښې سترګې غړولې دي ـ د ظلم جبر، زور زیاتي اؤ د ناانصافیو ښکار شوے دے خو انسان ورته همېشه پهٔ څهٔ نا څهٔ شکل کښې مخې ته اودرېدلے دے اؤ د خپل بریالیتوب هڅې یې کړې دي ۱۰ ـ"

"پهٔ نوي تاریخ کښې مزاحمت ته د یو سیاسي اؤ معاشي سوچ حېثیت هغه وخت ورکړے شو چې پهٔ کال ۱۹۲۴ء کښې د الماني آمریکائي فلسفي نقاد اؤ تاریخدان "هیربرټ مارکوس" لخوا (One Dimensional man) پهٔ نوم یو کتاب شائع شو چې د ترقي یافته صنعت کارې معاشرې د ځانګو د علم اؤ پوهې پهٔ لړ کښې یې د یو مطالعاتي مرکزي حېثیت لرلو ۱۰ ـ"

تر څو چې د پښتو ادب د مزاحمت خبره نو پښتانۀ پۀ هره دوره کښې پۀ جنګونو کښې ښکیل پاتې شوې دي، وخت پۀ وخت پۀ یو نا یو زورور اوړیدلي دي۔ د سکندر نا راواخله تر پیرنګي پورې دوئ کله بهرني او کله کورني جنګونو کښې نښتي پاتې شوي دي او بیا دغه اثرات د هرې دورې پۀ تخلیق کښې واضح ښکاري۔

"پښتو ادب کښې د مزاحمت غږ پۀ ادبیاتو کښې پۀ هر دور کښې اوربدلے شوے دے۔ حقیقت دا دے چې ادب پخپله مزاحمت دے۔ پۀ پښتو ادب کښې لکه د نړۍ د نورو ژبو د ادبونو د مزاحمت پنګه ډېره درنه ده۔ پښتو شاعري د نورو عالمي ژبو د شاعرۍ پۀ شان ځان ته خپل انفرادي رنګ اؤ ځانګړې مزاج لري۱۱"۔

پۀ دې سلسله کښې سلیم راز خپل دا ډول پېش کړے دے:

"پښتو شعر اؤ ادب خو د ابتدا راسې مزاحمتي مزاج اؤ رویه لري پۀ اجتماعي طور یې هم د جبر د قوتونو خلاف قلمي اؤ فکري مبارزه کړې ده اؤ پۀ انفرادي ډول یې هم هر دور کښې اواز پورته کړے دے اؤ مزاحمت یې جاري ساتلے دے۱۲"۔

پښتو ادب کښې د مزاحمت تصور کۀ څۀ هم په معاصر دور کښې یو منظم نظریاتي شکل خپل کړے دے خو د دې ریښې ډېرې ژورې دي چې تر کلاسیک دور پورې رسېږي۔ په دې لړ کښې خوشحال خان خټک یو بنیادي او تاریخي شخصیت دے چې د پښتو مزاحمتي شاعرۍ اولنۍ څهره بللے کېږي۔ د هغه شاعري یواځې د حسن وعشق او جمالیاتو ترجماني نۀ ده بلکې د سیاسي شعور، قومي یووالي او د مغلو د استبداد خلاف بغاوتي ژبه ده۔ خوشحال خان خټک د خپل دور سیاسي حالاتو ته پۀ کتو سره پښتنو ته د یووالي، جرأت او خپلواکۍ درس ورکړے دے۔ هغه پۀ خپله شاعرۍ کښې د غلامۍ سخت مخالفت کړے او پښتانۀ یې دې ته لمسولي دي چې د پردیو د غلامۍ خلاف ودرېږي او خپل حق ترلاسه کړي۔ افراسیاب خټک د مشال رېډیو یو همکارسره دخوشحال بابا پۀ اړه د مرکې پۀ وخت دا ډول ګویانه شوے دے:

"پښتنو تل مزاحمت کړے دے چې لویه بېلګه یې د خوشال خان خټک مزاحمتي شاعري ده نو ځکه خو هغه د یوه

لیکوال ترخنګ د خپل حق اخستو او خپل اولس د راببدارولو هڅې د لیک او عمل لۀ لارې کړې وې. هغه ووئیل خوشال خان خټک یو ډېر ستر زیرک انسان وو او پۀ دې پوهېدو کۀ اولسونه یو موټي شي نو هېڅ زورور ورته د ټینګې نۀ دے۱۳".

د دې وروستو چې د ازادۍ د تحریک پۀ دوره کښې کوم ادب تخلیق شو، هغه زیاتره د اولسي ادب پۀ شکل مخې ته راغے. پۀ دغه اولسي ادب کښې چاربیتې او ټپې تر ټولو ډېرې موندلې کېږي، چې لویه برخه یې پۀ مزاحمتي مضمونونو ولاړه ده. پۀ دغو ټپو کښې د مالاکنډ جګړه، د کشمیر د غزا او د نورو یو شمېر مهمو تاریخي پېښو یادونه شوې ده. همدا رنګ پۀ دې ټپو کښې د قومي اتلانو د کردارونو ننګ، توره، مېړانه، عظمت او وقار پۀ پوره شدت او احساس سره ذکر شوي دي.

د برصغیر د تقسیم وروستو د پښتو شاعرۍ د مزاحمت تسلسل غني خان، اجمل خټک، صنوبر کاکاجي، قلندر مومند، سیف الرحمان سلیم، خالق زیار او سلیم راز پۀ خپله شاعرۍ کښې ژوندی وساتو. د دې ترخنګ رحمت شاه سایل، درویش دراني، خان زمان کاکړ او امجد شهزاد پۀ خپلو شعرونو کښې د خپل اولس د حقونو، خپلې خاورې د سیاست، معاشرت، د معاش او کلتور د ساتنې خبره کړې ده.

درویش دراني د پښتو معاصر ادب مېدان کښې د لوړې پایې اؤ د اعلي معیار شاعر دے. هغه پۀ خپل لازواله فني تاب، باکماله فکري ژورتیا اؤ د مزاحمتي شاعرۍ پۀ زور پۀ ادب کښې ځان ته خاص مقام پېدا کړے دے. ولې چې دے د الفاظو یو ماهر کاتب سره سره د شعور، بغاوت اؤ انساني اقدارو یو ښۀ ترجمان هم دے.

هر کله چې د پښتو نوي ادب پۀ دایره کښې د مزاحمت یا ظلم اؤ ناانصافۍ د عمل خلاف خبره کېږي نو د درویش دراني نوم تر ټولو وړومبے تکرارېږي. ځکه چې د هغه کلام صرف د لفظونو بازي نۀ ده، بلکې د ظلم خلاف چغه ده، د حق اؤ بیدارۍ آواز دے. د جابر غندنه ده. د ناانصافۍ سرغړونه ده. د شعور ژبه ده. د مزاحمت یوه رسا سندره ده. د سوچ یو ببرغ دے، د بغاوت یو زوردار غږ دے، د جذباتو یو سپېځلے تصویر دے. د بېدارۍ یو فانوس دے. د سماجي او معاشرتي قدردونو نماینده تصویر دے. دا رنګ د درد د اظهار سره سره د لوستونکو دپاره یوه فکري سرچینه ده. د

پوښتنو د زېږولو مور ده، خاموشي وژني اؤ د زړونو او ذهنونو نه د ويرې خپسه تښتوي ـ لوستونکي د دنيا ناوړه حالاتو ته متوجه کوي ـ اولس د تورو سازشونو، پردو ګټهو اؤ د بهرنيو او کورنيو راتپلو شوو جابرانه نظام پۀ خلاف راپاروي اؤ د ظلم، غلامۍ اؤ ناانصافۍ پۀ ضد غندنه کوي ـ

درويش دراني پۀ خپل فني قوت، فکري ژورتيا اؤ د مزاحمتي شاعرۍ پۀ وجه پۀ وجه پۀ ادب کښې جوت مقام لري ـ نثر کور انلائن وېب پاڼه ليکي:

"د شلمې پيړۍ وروستۍ درې لسيزې چې په مجموعي توګه د پښتون د نسل کشۍ لسيزې دي او درې تاريخ سازه قد آور شخصيات يې د پښتو عصري ادب هسک ته د روڼو ستورو په څېر ور سوغات کړو د دغه درو قد آورو شخصياتو يو هم د سهيلي پښتونخوا نوموړی شاعر درويش دراني دی ، د درويش دراني لويه برخه شاعري د نوي رياليستيکي انداز اوفکر شاعري ده چې لوستونکي دفطرت ننداړو او د عمل کړو ته پاروي هم يې د نوي شعور و ادارک ته ور پاموي ، درويش صاحب چې د نظم لپاره کوم هنري سبک او د ژبې سوچه تيکنيک کاروي په مجموعي ډول د غزل تر چوکاټ ,, فريم '' توپير لري دا ځکه يې د يوه او نيم هم عصر غوندې نظم غزل زده نه ښکاري ، لکه څه ډول چې دا توپير د اردو ژبې د دوو نوموړو شاعرانو فيض احمد فيض او ساحر لدهيانوي تر مېنځ ليدلای سو ، د درويش دراني لويه برخه شاعري د نوي مزاحمتي ادب د نوي انداز فکري پيکرونه رغوي ګويا درويش صاحب يو سپېڅلی فکري مبلغ دی او د فکري بدلون د مسوليت حساسه ملي وظيفه اجرا کوي۱۴ـ"

يوه بله ان لائن وېب پاڼه د درويش دراني د مزاحمتي شاعر پۀ حېث پۀ دې ټکو کښې معرفي کوي:

"د ۱۹۷۰ ء پۀ لسيزه کښې پۀ جنوبي پښتونخوا کښې چې (پښتوغزل اؤ جديديت ياجديد پښتوغزل) په نوم کومو رجحاناتو

ته وده ورکول شوه اصل کښې په پښتو ادب کښې د مزاحمت یا مقاومت اؤ ترقي پسند رجحاناتو مخه نیول یې موخه وه او د پښتو د ملي هدافو او نظریاتو او سمهاله پښتو شاعري بې برخي کول یې هدف وو ،د درویش دراني په وړاندي ملي هداف او ملي غمیزه غوړیدلي وه یو خوا دربار او بل خوا انکار وو او د انکار انجام (اغزنه لار) شوه ،د جدیدیت د تحریك پۀ مقابل کښې د ملي تحریك هداف پلي کول مهم وپامول د ملي تحریك ملتیا او د ملي فکر ترجماني یې د قام او وطن امانتګري وبلله۱۵۔"

دا مهال کۀ پۀ پښتون وطن کښې ډېرې ستونزې پېدا شوي دي ۔مثلاً بدامني، بې باوري، سیاسي غلامي، جبر اؤ ناانصافي اؤ داسې نور بد اقدار راپورته شوي دي چې د پښتون ژوند اؤ سر یې د خطرې سره مخ کړے دے ۔درویش دراني د دې ټولو ستونزو پۀ اړه فکر مند دے اؤ د شاعرۍ پۀ ذریعه یې د دې ټولو ستونزو متعلق خپل موقف وړاندې کړے دے ۔پۀ دې چې پښتانۀ بېدار شي، دا ټولې ناهموارۍ هوارې کړي او د پرمختګ پۀ لوري یون اوکړي ۔

درویش دراني د خپل وطن د بدامنۍ، بې باورۍ، سیاسي غلامۍ، جبر اؤ نا انصافۍ نه پرده پورته کړې ده ۔د هغۀ پۀ خیال وطن کښې هر څۀ نااشنا نااشنا ښکاري۔ نۀ خلق خپل ښکارېږي او نۀ ماحول۔داسې حالات دي چې سړے پخپلو خلقو هم اعتماد نۀ شي کولے، کۀ چرته یو څوک خپل کور ته ځي نو هم ویرېږي، پۀ ډاډه زړۀ نۀ شي ورتلے۔ دا د بدامنۍ، جبر اؤ ظلم څرګندې نخښې دي۔دا هم ښائي چې وطن اختیار اؤ واک نور د خپلو خلقو د لاسو نه د پردو لاسو ته لوېدلے دے۔لکه وائي:

"درویشه دلته اوس هر څۀ پردي پردي ښکارېږي
خپل کور ته هم پۀ ویره ویره باندې لکه غل روان یم۱۲"۔

د درویش دراني دا رنګ شاعري نۀ یوائې د جنګ غندنه کوي بلکې د امن د ساتنې دپاره د خپل اولس ته د شعوري مبارزې شعور کوي چې دا د مزاحمتي شاعرۍ یو بنیادي مقصد دے۔بل کلام کښې وائي:

د اولاد پۀ رویه کښې بغاوت ؤ

د یو لوے جنګ ابتدا پۀ هر کور کښې
د بدل خبره نۀ کېده درویشه!
بس دعوه د خون بها وه پۀ هر کور کښې۱۷".

شاعر دلته د پټ دښمن او شعوري بېدارۍ خبره کوي.

کۀ پښتني معاشرې ته وګورو نو کۀ پۀ دې خاوره د چا لاسو کښې د اقتدار واګې دي د هغه نه هم لار خطا ده. د منبر د واکمن هم پۀ ورکو سر دے. د عدل و انصاف د تخت پۀ سر ختلي حاکمان هم د انسان جامه کښې پټ ناانصافه درندګان دي. قام پرسته پۀ قام خرڅو او وطن دوسته پۀ وطن خرڅو بدل شوي دي، مکتب هم بازار دے، تعليم تجارت دے، کتابونه دوکانونه دے، معلمان سوداګر دي او شاګردان خريدار دي، اولس هم زياتره نااهله دے سياسي، سماجي، قامي کلتوري، معاشي اقدار يې ټول د خاورو سره خاورې کړي دي. پۀ داسې وخت کښې چې د قام سترګه سترګې نۀ غړوي پۀ معاشرتي ناوړه اړخونو چې تنقيد او نيوکه نۀ کوي يا د هغوي پۀ خلاف غندنه نۀ کوي نو څۀ به کوي ؟ درويش داسې شاعر دے چې د دا رنګ حالاتو نه تېر شوے دے نو د تخليق پۀ وخت يې د معاشرې دا بد راج شوي رواجونه د قلم پۀ څوکه پۀ ترخه ژبه غندلي او کړلي دي.

درويش دراني پۀ خپله شاعرۍ کښې سياسي جبر، استبداد او ناانصافي پۀ ډېر زور سره غندي. هغه داسې نظام ته ګوته نيسي چې پکښې نۀ عدل شته او نۀ انصاف او اولس پۀ هر قدم د استحصال ښکار ګرځي. د دې نه علاوه د واکمنانو ظلمونه بربنډوي او مخونه يې خلقو ته بې نقابه کوي. د پښتنو د سياسي شعور هغه کمزورۍ ته نيسي او وائي چې پښتانۀ د حالاتو پۀ نبض نۀ پوهېږي او اکثر د فرېب او دهوکې ښکار کېږي. هم دغه وجه ده چې هغه د بې اتفاقۍ ستونزه هم را برسېره کوي او دا ښايي چې د اولس ترمېنځ تفريق د هغوي کمزوري نوره هم سېوا کړې ده. لکه وائي:

پۀ سمه لاره باندې به هم تلو کاږۀ واږۀ
تر مار پۀ طبيعت کښې سم نۀ تۀ وې او نۀ زۀ۱۸

دې شعر کښې زياتوي چې پۀ پښتنه ټولنه کښې د هرې شعبې د سمې لارې پۀ ځاے پۀ کږو روان دي او اولس هم پۀ کږو وږو لارو سر دے هېڅ د غندنې جرات نۀ لري.

د اقتدار شوقیان پهٔ دې خاوره د خپلو مفادو د لاس ته راوړنې د پاره خپل اولس سره سیاسي جبر او بې انصافي کوي۔ درویش دراني د هغوي پهٔ خلاف ډېر سخت غبرگون کړے دے لکه وائي:

د حساب کتاب پوښتنه کوے نهٔ شو
دا وطن زمونږ د پاره سم دوزخ شي۱۹

او بل ځاے وائي:

د باچا د دروازې دربان بدل ؤ
ککرۍ چې یې وېستله لاره نهٔ وه ۲۰

دا شعرونه د یو داسې سیاسي نظام انځور وړاندې کوي چې پهٔ کښې د عدل نشتوالے ښودلے شوے دے۔ د دې ترڅنگ د پښتنو د سیاسي شعور کمزورۍ یې هم غندلي دي، د دوي د وحدت کمزوري ټاټوبي ته یې هم اشارې کړې دي۔ لکه وائي:

پهٔ دې خلقو کښې پخوا وه اوس هم شته
د نفاق لویه بلا وه اوس هم شته۲۱

د دې سره سره یې دا هم ښودلي دي چې د پښتون د کوره لا یو سیاسي دښمن کډه نهٔ وي کړې چې بل بهرني دښمن کډه رارسولې وي۔ لکه وائي

هره بلا چې ځي زما لهٔ کوره
وائي زهٔ لاړمه اوس بله راځي۲۲

پهٔ مخ د زمکې جابره اؤ ظلم کوونکي قوتونه همېشه انسانان د تباهۍ سره مخ کوي ۔ څوک چې خپلې خاورې اؤ اولس سره وفادار وي هغوي د هرې قربانۍ نه تېرېږي اؤ هر وخت کښې د خپل مزاحمت پهٔ زور د دې جبري قوتونو د ظلم مخه نیسي۔ درویش دراني خپله هم د خپل قام او وطن سره مینه لري اؤ هغهٔ د خپلې خاورې د هغه خلقو مېړانې اؤ قربانۍ هم ستائیلې دي چا چې د پښتنې خاورې د بقا پهٔ جنگ کښې هر قسم قرباني ورکړې ده ۔ تر دې چې خپل سرونه یې شیندلي دي خو اغیارو ته تسلیم شوي نهٔ دي ۔ درویش دراني دا هم زیاتوي چې دومره وینې تویې شوې، دومره خلق مړهٔ شول خو وطن کښې لا هم امن، برابري اؤ ښهٔ ژوند نهٔ دے راغلے اؤ دا د ظلم او ناانصافۍ نتیجه ده۔ لکه وایي:

یو پهٔ قبرونو کښې راغلي تر دې ځایه پورې
درویشه! دا ځل د وطن زمکه هواره نهٔ وه۲۳

درویش دراني کهٔ یو طرف ته د وطن د ښکلا اؤ شتمنو د لوټ مار ذکر کوي نو ولې بل خوا د وطن د بدامنۍ خونړي انځورونه هم وړاندې کوي ـ کهٔ د خپلې سیمې د سوکالۍ، خوشالۍ او باوقاره علامتونه پهٔ نظر کښې نیسي اؤ بیا یې ستایي نو د خپلې خاورې د وحشت، تباهۍ، جنګ اؤ بربادۍ بدو پېښو نه هم خبر دے ـ د خپلې خاورې خونړي عکسونه یې پخپله شاعرۍ کښې رانغاړلي دي اؤ اولس ته یې رسولي دي ـ لکه وایي:

ستاسو اولاد د دې ځاے خوشبویي ولوستله
ستاسو هوسیو د دې ځاے لاچي لونګ وخوړل
څنګه ګزار وه او هډونه یې څهٔ رنګ مات کړل
څنګه بلا وه او سرونه یې څهٔ رنګ وخوړل ۲۴

هغه پهٔ خپلو شعرونو کښې د دې استحصال بېلابېل تصویرونه وړاندې کړي دي ـ لکه وائي:

تهٔ د خپل وطن پهٔ شتمنۍ باندې اغیار ساتې
وایه چې تر څو به پهٔ شودو باندې ښامار ساتې۲۵

دلته شاعر دا ښائي چې څنګه بهرني او داخلي استحصالي قوتونه د وطن د وسایلو نه ګټه اخلي او اولس محروم ساتي ـ بل ځاے کښې د ظلم او لوټ مار تصویر داسې وړاندې کوي:

چې پهٔ شکرو کښې چا زهر وو راوړي دلته
هغه لهٔ دې ځایه لعلونه پهٔ ایرو کښې یوړل۲۲

دا اشعار د اقتصادي زوال، بد امنۍ او سماجي بې باورۍ تصویر وړاندې کوي ـ همدارنګه هغه د غربت درد داسې بیانوي:

دومره زیات غربت هم نهٔ ؤ پهٔ وطن کښې
ساه مو اخسته هوا وه پهٔ هر کور کښې
د سرو شپې تېرېدلې پهٔ وطن کښې

اؤ د کور مېرمن تنها وه پۀ هر کور کښې۲۷

دلته د غريبئ، ترخنګ د انساني ژوند د تنګئ او محرومئ عکاسي شوې ده. د دې سره سره يې د جنګ، بې باورئ او سماجي وېري تصوير هم وړاندې کوي. لکه وايي:

اوس د اوښکو مرحله ده اوس د غم د اظهار وخت دے

جنګ پای ته رسېدلے، د زخمونو د شمار وخت دے

مونږ ړاندۀ سره پۀ جنګ يو، پۀ دې نۀ سره پوهېږو

چې دا شپه ده تاريکه ده اؤ کۀ نۀ د سهار وخت دے

پۀ اوبو د دښمنئ ده د دې ښار خټه اخښلې

د خپل کور لۀ دېوالونو اے درويشه! د ډار وخت دے۲۸

د دې ترڅنګ ِدرويش دراني زياتوي چې د پښتون قام دښمن څۀ هم کۀ شکل بدل کړے دے خو لا اوس هم دلته زمونږ ترمېنځه موجود دے. پکار ده چې دښمن وپېژنو ځکه چې دښمن پېژندل د مزاحمت وړومبے شرط دے. پۀ دې مقابله کښې د جذباتو نه ډډه کول اؤ پۀ ځاے د دې د شعور، يووالي اؤ عملي ګامونه اخستل پکار دي او پۀ داسې شکل کښې د مرام پۀ تګلاره سفر ته مخه ورکول چې پۀ اجتماعي، فکري اؤ سياسي توګه د ټول قام يوه منظمه اؤ شريکه لار وي. شعر پۀ دې ډول دے:

تر وخت وړاندې يې نېلام کړې ولې تورې

د سرونو دښمنان يې لا اوس هم شته ۲۹

درويش دراني د ژوند پۀ هر ډګر کۀ ناست وي اؤ کۀ روان وي خو خپل قام سره د وفادارئ مزاحمتي يون کوي. لکه وايي:

چې ومه ناست نو لۀ خپلو سره ګډ ومه ناست

چې يم روان نو لۀ خپلو سره مل روان يم ۳۰

نفاق چې يو بد اؤ خطرناک رواج دے. پۀ کوم ملت چې دا بد رواج راج شي نو د هغه ملت وګړي د زوال پۀ کندو سر شي. کۀ د تاريخ پاڼې واړوو پښتانه پۀ هره دوره کښې د نفاق ښکار پاتې شوي دي. هغه کۀ د مغلو، سکهانو اؤ پېرنګيانو پۀ وړاندې پښتانۀ خپلو کښې بې اتفاقه وو. دغه بې اتفاقئ نه وخت پۀ وخت د پښتنو دښمن ګټه پورته کړې ده اؤ پۀ دې طريقه ئې يې تر مودو مودو د لويو لويو تاوانونو سره مخ ساتلي

دي ـ دا رنګ پهٔ دې معاصره دوره کښې هم پښتانهٔ د خپل تورمخي دښمن وړاندې بې اتفاقه دي ـ د وحدت پهٔ یو ټغر نهٔ راټولېږي او د نفاق مرض ئې وینې څښي ـ دغه وجه ده چې د دوئ دښمنانو ته د دوئ وهل د پخوا نه هم اسان شوي دي ـ د دې سره سره د پښتنو تر مېنځ د یووالي غوښتنه کوي او داخلي اختلافاتو باندې تنقید کوي. لکه وائي:

خپل دښمن ته یې یوه دا ځل مورچه ده
د دوو ورونړو اره دا ځل یوه ده
خلقو چغې کړې بلا ده راروانه
زهٔ خوشحاله شوم چې څه دا یوه ده
د دښمن پهٔ باب زمونږ کومه خبره
چې پخوا نهٔ وه یوه دا ځل یوه ده
لهٔ لوبډلي مو د سر لوبغاړي ووځي
دا پهٔ دا د هغه پښه دا ځل یوه ده
تباهي یې هغه هومره ده درویشه!
مګر کړې یې حمله دا ځل یوه ده۳۱

قامي شناخت او تاریخي شعور پهٔ اړه وائي:

ستا د نیکونو زمانه ورکه ده
د تاریخ لویه خزانه ورکه ده
د جنګ پهٔ دوړو کښې تر کلي راغلې
لهٔ څهٔ هوسیو دامانه ورکه ده
توپیر خو شته، د یوهٔ سر غائب دے
د بل روپۍ، د بل آنه ورکه ده
درویش د! ولې به خواشینې نهٔ یو
ببرغ مو ورک دے ترانه ورکه ده۳۲

او بل کلام کښې وائي:

درویشه! نهٔ کووم لهٔ زمکې نه اسمان ته کډه
دلته زما د باباګانو هدیره پاتېږي۳۳

بیا وائي د پښتنو د قامي شعور د کمزورۍ لۀ وجې پښتانۀ د هغه چا پۀ توره وژلے کېږي چې د کومو تورو نه يې زنګ لرے کړے دے ـ وروستو زياتوي چې پښتانۀ پخپلو کښې لاس و ګرېوان دي او دښمن ورته پۀ کالۀ سرې سترګې ګرځي ـ دا سختې نيوکې دي او پۀ دې فکر خاوندان ډېر ښۀ پوهېږي ـ لکه وائي:

نن پۀ هغه توره باندې وژل کېږم
پۀ خپل لاس چې لرے کړے ترې ما زنګ دے
نو دښمن به مې خود روغې تنې ګرځي
چې مې لاس لۀ خپل ګرېوان سره پۀ جنګ دے ۳۴

پښتنو پۀ هره زمانه کښې پخپل مزاحمت ځان ژوندے ساتلے دے او اوس هم پۀ دې خاوره داسې پښتانۀ وګړي شته دے چې د خپل عزت، کور اؤ قام دپاره ولاړ دي او د دښمن پۀ وړاندې مزاحمت کوي ـ

بل کلام کښې وايي چې دښمن زور کوي او د پښتنو کورونو ته ورننوځي خو پښتانه تيار دي چې پۀ زړورتيا او حوصلې سره ورسره مقابله اوکړي ـ بل بېت کښې وايي دښمن هڅه کوي چې پښتانه بې اتفاقۍ کښې مشغول وساتي خو پښتانۀ هوښيار اؤ د خپلو حقونو ساتونکي دي ـ وړاندې وائي چې د پښتنو وجود دښمن ته د زړۀ ورتوب اؤ مزاحمت علامت دے ـ دښمن کۀ هر څومره زور کوي، پښتانۀ به خپل مزاحمت جاري ساتي ـ لکه وائي:

دښمن په زوره ننووت په کور د پښتانۀ
خو دغه کار ئې هم وکړ په زور د پښتانۀ
ځالاکه دښمنان چې ئې سر وړي، هغه مهال
مشغول لکه ماشوم کړي په څه ورور د پښتانۀ
دستي د پښتانۀ په وجود ولکوي غاښ
چې هر يخزنے مار تود شي په اور د پښتانۀ
ويريا به ئې هم در کړي که ئې زړه وي ستا په کار
خو سر په هر حالت کي دی په پور د پښتانۀ
درويش ورپسي ټول عمر اخستے و خراغ

خو چرته ئې هم وۀ نۀ ليد غمخور د پښتانۀ۳۵

درویش دراني زیاتوي چې د پښتون قام دښمن څۀ هم کۀ شکل بدل کړے دے خو لا اوس هم دلته زمونږ ترمېنځه موجود دے ـ پکار ده چې دښمن وپېژنو ځکه چې دښمن پېژندل د مزاحمت وړومبے شرط دے ـ پۀ دې مقابله کښې د جذباتو نه ډېره کول اؤ پۀ ځاے د دې د شعور، يووالي اؤ عملي ګامونه اخستل پکار دي او پۀ داسې شکل کښې د مرام پۀ تګلاره سفر ته مخه ورکول چې پۀ اجتماعي، فکري اؤ سياسي توګه د ټول قام يوه منظمه اؤ شريکه لار وي ـ

درویش دراني پۀ دې هم خبر دے چې پربکړه د احساساتو لۀ مخې نۀ وي بلکې د وجدان پوهې اؤ شعور لۀ مخې راولاړېږي ـ ځکه خو د جابرو طبقو سره د فطري جګړې سره سره د وجدان، پوهې اؤ د شعور پۀ هوډ جنګ کوي ـ د جابرو طبقو مخکښې خاموش نۀ پاتې کېږي، خپله د حق ژبه ګويا ساتي، خپل موقف نۀ بدلوي اؤ د وخت نه مخکښې خپل وار تېروي، کۀ سر يې هم ځي، پروا نۀ کوي ـ شعر پۀ اصل کښې د قربانۍ د عمل اؤ د شعوري مزاحمت علامت دے چې پۀ دې ډول دے:

سر ورکول وي کۀ لازم تر ټولو
زۀ تېرول غواړم خپل وار لۀ مخه۳۶

درویش دراني پۀ خپل کلام د شعوري مزاحمت دپاره هم هلې ځلې کړي دي ـ ځکه چې درویش دراني خپله هم د بدلون شعور د زيان نه خبر دے اؤ خپل اولس ته هم پېغام ورکوي چې د شعور د لارې د خنډونو نه ځان واقف کړي ـ لکه درويش دراني نۀ يواځې د خلقو احساسات راپاروي بلکې قام ته يې دا درس ورکړے دے چې د بدلون پۀ لاره يون ته ملا وتړي ـ

درویش دراني د حالاتو د قانون درک هم کړے چې دا د شعوري مزاحمت تر ټولو اول علامت دے ـ درویش دراني پۀ دې باوري دے چې د حق مبارزه نتيجه لري ـ دوئ زياتوي چې د جبر، جنګ اؤ ناانصافۍ بد رسمونه پۀ ټولنه کښې نۀ پاتې کېږي، ځکه چې وخت پۀ وخت سياسي بدلونونونه رامېنځته کېږي ـ کوم خلق د جګړې يا جبر لۀ وجې د وطن نه جلا وطن يا کډوال شوي دي نو شايد اوس موسم بدل دے د هغوي راتلل وطن ته ممکن شوي دي ـ

درویش دراني د مایوسۍ په تیارو کښې هم د امېد رڼا وینې خو هغه رڼا چې د وېرې نۀ ډکه ده ـ ځکه چې درویش دراني د دې خبرې ګواهي ورکوي چې هسې نه بدلون دومره وروستو راشي چې زمونږه هدیرې د ځوانانو د قربانو د قبرونو نه ډکې وي او هغه طبقه چې د ژوند د خودمختارۍ او استقلال خوارۀ خوري، د خاورو په ښار کښې اودۀ وي ـ لکه وائي:

موسم بدل دے شاید تللي مرغان بیرته راشي
ۀ خپل وطن ته کډوالو کاروان بیرته راشي
درویشه! داسې به وۀ نۀ شي چې زمونږ هدیرې
سپین ږیري اوګرځوي ټول او ځوانان بیرته راشي۳۷

درویش دراني کۀ چرته هم د خرابو حالاتو سره مخ شوے دے خو نا امېده شوے نۀ دے، بلکې په شعوري توګه یې د بدلون دپاره مزاحمتي مبارزه کړې ده ـ لکه وایي:

شاید وخت دے د زوال سیورے هم نشته
زۀ په هر دېوال بغل ګورم لګیا یم۳۸

شاعر د تیارو په وړاندې د رڼا په لټون کښې دے خو رڼا نۀ مومي ـ هغه د زړۀ دردونه مني خو لا هم د بدلون امېد ساتي ـ یعنې د مشکلاتو سره په هوښیارۍ او شعور سره مقابله کوي ـ لکه وایي:

هر څراغ ته چې کړم لاس په دې تیارۀ کښې
په لاس راشي لاس د روي څراغ نۀ وي
درویش کښیني د زاړۀ زخم رڼا ته
چې کوم وخت یې وس د نوي څراغ نۀ وي۳۹

په دې خاوره چې چا هم د رڼا تخم کرلے دے هغه د تیارو سره مخ پاتې شوے دے ـ چا چې د حق غوقتنه کړې ده نو د وخت غاصبانو په ناحقه په دار خېژولے دے ـ ځکه خو درویش دراني وائي:

هر څۀ مو لوټ شو اوس اسمان ته ګورو
څوک مو لۀ سره دغه بام وانخلي
خپل سر په دې ژغورمه ستا لۀ تورې

بیا مې لۀ تا ځوک انتقام وانخلي
چې د سایې مخ ئې پۀ چول روان شوې
دا ونه هم درپسې ګام وانخلي ۴۰

د دې نه علاوه د علم، قلم او شعور اهمیت پۀ ډېر لوړ انداز بیانوي۔ولې شاعر پۀ دې باوري دے چې ریښتینې بدلون د تورې پۀ زور نۀ راځي بلکې د فکر او پوهې نه راولاړېږي۔هم دغه وجه ده چې وایي:

مونږ غواړو چې هغو ته هم پۀ لاس کښې ورکړو توره
درویشه! خاوندان چې د قلم راځي پۀ مخه ۴۱

دلته شاعر دا پیغام ورکوي چې د قلم خاوندان، یعنې پوهان او لیکوال، د معاشرې اصلي لارښودان دي او د هغوی فکري قوت د هرې وسلې نه زیات اثر لري۔

دا یو منلے شوے حقیقت دے چې زمونږ پۀ ټولنه کښې چې ځوک د رڼا تخمونه شیندي، د هغۀ دښمنانان زیات وي۔د هغۀ مخې ته پۀ ژوند کښې یو شمېر مشکلات راځي او د ډېرو دښمنیو دروند پېټے پۀ غاړه وړي ۔ولې چې دلته د تیارې د تور جهل پلویان ډېر دي اؤ د هر مکتب د چترۍ د شفقت پۀ سیوري ځان د باران نه بچ کوي اؤ د وخت سره سم د رڼا پۀ پلویانو همېشه ګوزارونه کوي ۔

د رڼا د بلولو پۀ سلسله کښې چې ځومره خنډونه، ستونزې، دښمنۍ مخې ته راځي ۔درویش دراني د هغه ټولو دښمنیو اظهار د شعر پۀ پېرایه کښې ښکاره کړے دے ۔دۀ دا هم زیاته کړې ده چې یو ځوک پۀ توره شپه کښې یوه ډیوه لګوي نو دا تر ټولو غټ د مزاحمت علامت دے۔لکه درویش دراني وایي:

پۀ خوا ؤ شا کښې د رڼا دښمني لا زیاته شي
زه چې مړ ژوانده ډیوه بله کرم هوا زیاته شي ۴۲

پۀ دې شعر کښې "ډیوه" د علم او شعور علامت دے او شاعر دا ښائي چې کۀ هر ځومره مخالفت هم وي خو د پوهې رڼا بیا هم خورېږي او تیارۀ شاته غورزېږي۔د دې ترڅنګ وسله واله مبارزه د حل لار نۀ ګڼي بلکې فکري مبارزه غوره بولي۔لکه وایي:

پۀ یوه ګوزار د سر سورے کېدے شي
چې همت وي هر یو غر سورے کېدے شي

ستا د جبر کوم دېوال ته چې ولاړ یو
سورے نهٔ لري مګر سورے کېدے شي
وار د دغه وسلې دروند اے درویشه!
د قلم پهٔ څوکه سپر سورے کېدے شي۴۳

دلته شاعر د قلم قوت تر هرې وسلې لوړ ګڼي او دا باور ورکوي چې د جبر او ظلم دېوالونه د شعور او فکر پهٔ زور نړېدئ شي. د هغه دا فکر څرګندوي چې قلم یواځې د اظهار وسیله نهٔ ده بلکې د بدلون، انقلاب او بېدارۍ یو مؤثره رویه ده. دا ډول شعرونه د ستونزو په وړاندې د هوښیار، شعوري او مزاحمت کوونکي اصول څرګندوي. د ظلم او ناانصافۍ نه د خلاصون او حق غوښتنې هېله لري چې د مزاحمتي شعور مهم توکي دي.

درویش دراني پهٔ خپله شاعرۍ کښې د طبقاتي شعور یو ډېر قوي او ژور اظهار کوي. هغه د محکومو، محرومو او بې وسه طبقو غږ پورته کوي او د هغوی د خوارۍ، محرومۍ او دردونو اعتراف پهٔ ډېر وضاحت سره کوي. د هغه کلام دا حقیقت راښائي چې پهٔ ټولنه کښې انصاف مساوي نهٔ وي او د طاقت خاوندان د کمزورو حقونه تر پښو لاندې کوي.

هغه د امیرانو او استحصالي طبقو خلاف مزاحمت کوي، هغه طبقې چې پهٔ نورو حکومت کوي خو د زیارکښو، مزدورانو او غریبانو قربانۍ هېرې کړې وي. درویش دراني دا فکر وړاندې کوي چې د وطن ریښتوني جوړوونکي هم دغه محروم خلق دي، کوم چې د خپل بدن پهٔ خولو د وطن خاوره پاکوي او ښکلې کوي.

د هغه پهٔ نظر د معاشرې حقیقي بدلون د شتمنو او طاقتورانو پهٔ زور نهٔ راځي، بلکې دا بدلون د مزدور، غریب او زیارکښ د خواریو او قربانیو پهٔ نتیجه کښې راځي. همدغه فکر د هغه پهٔ شعرونو کښې داسې انعکاس مومي:

چې زیارکښان ئې د بدن پهٔ خولو وینځي همېش
درویشه خاوره د وطن به شي زرینه آخر۴۴

دغسې وړاندې شعر کښې د طبقاتي تضاد یو عجیب انځور وړاندې کوي:

درویشه! پهٔ دې کلي کښې عجب دے دا رواج

چې توره یو سړے وهي اؤ خان دے بل سړے۴۵

هغه دا هم ښايي چې څنګه په ټولنه کښې بې عدالتي موجوده ده، چرته چې شتمن په سکون ژوند کوي او غريب د کړاوونو سره مخ وي:

د وطن کاڼي يې تړلي دي په زمکه باندې
دے په ارامه د هېندارو په محل کښې ناست دے۴۶

دغه رنګ هغه د يو داسې کلي تصوير وړاندې کوي چې په کښې طبقاتي تفريق ډېر ښکاره وي:

درویشه! تا یو داسې کلي ته پناه یوړله
چې خان يې توره او جومات يې مناره نۀ لري۴۷

وړاندې د مزدور د حق د نۀ منلو درد دا ډول بيانوي:

چې مزدوري يې تر خولۀ وچېدو وړاندې ورکړي
درویشه! دوئ تراوسه دا حق د مزدور نۀ مني۴۸

هغه دا خبره نوره هم په ډاګه کوي چې طبقاتي توپير دومره زيات دے چې يو غريب خپل درد د بل غريب نه پټوي۔ لکه وائي:

مونږه ناداره به نادار درویش ته غوږ ونيسو
تۀ بډایه د بډاي خبره واوره ۴۹

دا هم ښائي چې غريب هم د دنيا د ظلم او هم د خپل حال او مجبورۍ سره سره جنګېږي۔ لکه وائي:

لۀ دنيا سره يې نۀ شوه سپينولې
لۀ خپل ځان سره غريب لاس ؤ ګريوان شو ۵۰

هم د دې کلام بل شعر کښې د بې انصافي نتيجه داسې بيانوي چې تاوان هم غريب ته رسېږي:

تش په دې چې ما ئې نبغ لۀ سينې ويوست
تا وهلے ؤ، په ما باندې تاوان شو ۵۱

درویش دراني دا ټول تصویرونه د یو قوي مزاحمتي شعور څرګندونه کوي چې پـه کښې طبقاتي نـابرابري، معاشـي استحصـال او د کمـزورو حقونـه د بحـث مرکـزي موضوعات دي.

پهٔ مجموعي توګه دا وئیلے شو چې درویش درانـي د جدیـد دور یـو داسې شاعر دے چې د مزاحمت تسلسل د کلاسیکي شاعرانو لکه د خوشحال خان خټک نـه رااخلي او تر معاصر دور پـورې یې پـهٔ نوي انداز کښې رسوي، ځکه د دهٔ شاعري د مزاحمت، شعور او بـدلون ځلنـده مثـال دے، پـهٔ شعرونو کښې یې د ظلـم، ناانصـافۍ او سـماجي ستونزې پـهٔ زړهٔ پـورې بیـان کړي دي او د احساساتو د بیـان پـهٔ ذریعـه یې لوستونکي د سـوچ پوښـتنې او عمـل لـوري تـه بللـې دي. د دې ترڅنـګ یـې سیاسـي، سـماجي او اقتصادي ستونزې پهٔ ګوته کړي دي. خپل اولس تـه یې د وحدت، انصاف او امـن درس ورکـړے دے او همېش پهٔ دې باوري او پاتې شـوے دے چې قلـم د بـدلون تـر ټولـو لويـه اثاثه ده. ولې چې هغه پهٔ دې پوهه دے کهٔ د قلم پهٔ څوکه یو اړخ تـه د اولـس د شـونډو نـه د خاموشـۍ ګنډ پرانسـتلے کېـدئ شي نـو ولـې بـل خوا د معاشرې اودهٔ ضـمیر پـرې هـم راوېښېدئ شي. هم دا وجه ده چې د دهٔ شاعري د معاصره دور د اولس د سیاسي سـماجي او اقتصادي ژوند یوه رېښتونې فکري ائېنـه او د پښـتو پـهٔ نـوي ادب یـو قـوي، مـؤثر او ژوندے مثال بللے کېږي.

## حوالې


1. ننګيال، عثمان، د خالد حسرت د مزاحمتي شاعرۍ تجزياتي مطالعه، زمشال پرنټنګ پرېس، ۲۰۲۵ء، مخ ۳۲
2. همدا اثر، مخ ۳۵
3. https://pashtoonkhwa . com 18/05/2026
4. د خالد حسرت د مزاحمتي شاعرۍ تجزياتي مطالعه مخ۴۲
5. سلیم اختر، ڈاکٹر، اردو ادب کی مختصر ترین تاریخ بیسواں ایڈیشن، لاہور: سنگ میل پبلی کیشنز، ۲۰۱۳
6. ابرار احمد، مزاحمتی ادب، مشمول مزاحمتی ادب اُردو ڈاکٹر رشید امجد (مرتب) اسلام آباد: اکادمی ادبیات پاکستان، ۱۹۹۵
7. د خالد حسرت د مزاحمتي شاعرۍ تجزياتي مطالعه مخ۴۷
8. د خالد حسرت د مزاحمتي شاعرۍ تجزياتي مطالعه مخ۴۷
9. سرتاج عالم، د ډاکټر خالق زيار په شاعرۍ کښې مزاحمت، ایم- فل مقاله، پښتو څانګه پېښور پوهنتون، سېشن ۲۰۱۸-۱۹، مخ ۸
10. د خالد حسرت د مزاحمتي شاعرۍ تجزياتي مطالعه، مخ ۴۹/۴۸
11. همد اثر، مخ ۵۰
12. سليم راز، د راز لټون، سنګر پبلي کيشنز B 14/فرسټ پلور، حاجي ګل پلازه، شوګر ملز روډ، مردان، ص ۹۹
13. https://mashalradio. com 18/05/2026
14. https://nasrkorwebpage com 18/05/2026
15. https://larawbarwebpage com 18/05/2026
16. دراني، درویش، په کاڼي کښې هېنداره، يونائيټډ پرېس کوټه، ۲۰۰۲ء، مخ ۲۷
17. https://zoley.blogfa. com 18/05/2026
18. دراني، درویش، د غزل څراغ، عبدالله پرېس لاهور، ۲۰۲۵ء، مخ ۸۴
19. همدا اثر، مخ ۳۳۸
20. همدا اثر، مخ ۳۵۲
21. همدا اثر، مخ ۱۹۴
22. په کاڼي کښې هېنداره، مخ ۱۸
23. د غزل څراغ، مخ ۳۰۲
24. په کاڼي کښې هېنداره، مخ۱۰
25. همدا اثر، مخ ۱۱
26. همدا اثر، مخ ۲۲

27. https://zoley.blogfa. com 18/05/2026
28. پهٔ کاڼي کښې هېنداره ، مخ ۲۱
29. همدا اثر، مخ ۱۸
30. د غزل ځراغ، ۱۹۴
31. پهٔ کاڼي کښې هېنداره ، مخ ۱۷
32. د غزل ځراغ ، مخ ۳۴۵
33. همدا اثر، مخ ۳۵۸
34. د غزل ځراغ، مخ ۵۲
35. همدا اثر، مخ۳۳۳
36. کاڼي کښې هېنداره ، مخ۴۰
37. همدا اثر، مخ ۱۴۴
38. همدا اثر ، مخ ۳۴
39. همدا اثر، مخ۳۵
40. همدا اثر، مخ ۳۷
41. همدا اثر، مخ ۳۹
42. دراني، درویش، دا بوټي به لونګ شي، یونائیټډ پرېس کوټه، ۲۰۰۹ء، مخ۳۵
43. کاڼي کښې هېنداره، مخ ۸۴
44. د غزل ځراغ، مخ ۳۵۱
45. کاڼي کښې هېنداره، مخ ۴۷
46. همدا اثر، مخ ۲۵
47. د غزل ځراغ، مخ ۸۲
48. همدا اثر، مخ ۸۱
49. همدا اثر، مخ ۳۰۷
50. همدا اثر، مخ۳۴۳
51. همدا اثر، مخ ۳۴۳


**References in Roman**


1. Nangyal, Usman. Da Khalid Hasrat Da Mazahamati Shaairai Tajziyati Mutala'a. Zamshal Printing Press, 2025, p. 32.
2. Ibid., p. 35
3. Pashtoonkhwa Website. https://pashtoonkhwa.com. Accessed 18 May 2026.
4. Nangyal, Usman. Da Khalid Hasrat Da Mazahamati Shaairai Tajziyati Mutala'a, p. 46.
5. Akhtar, Saleem. Urdu Adab Ki Mukhtasar Tareen Tareekh. 20th ed., Sang-e-Meel Publications, Lahore, 2013.

6. Ahmad, Abrar. “Mazahamati Adab.” In Mazahamati Adab Urdu, edited by Rashid Amjad, Academy of Letters Pakistan, Islamabad, 1995.
7. Nangyal, Usman. Da Khalid Hasrat Da Mazahamati Shaairai Tajziyati Mutala'a, p. 47.
8. Ibid., p. 47.
9. Alam, Sartaj. Da Dr. Khaliq Ziar Pa Shaairai Ke Mazahamat. M.Phil Thesis, Department of Pashto, University of Peshawar, Session 2018–19, p.
10. Nangyal, Usman. Da Khalid Hasrat Da Mazahamati Shaairai Tajziyati Mutala'a, pp. 48–49.
11. Ibid., p. 50.
12. Raz, Saleem. Da Raz Latoon. Sangar Publications, Mardan, p. 99.
13. Mashal Radio. https://mashalradio.com. Accessed 18 May 2026.
14. Nasrkor Webpage. Accessed 18 May 2026.
15. Larawbar Webpage. Accessed 18 May 2026.
16. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara. United Press, Quetta, 2002, p. 27.
17. Zoley Blog. https://zoley.blogfa.com. Accessed 18 May 2026.
18. Durrani, Darwaish. Da Ghazal Charagh. Abdullah Press, Lahore, 2025, p. 84.
19. Ibid., p. 338.
20. Ibid., p. 352.
21. Ibid., p. 194.
22. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara, p. 18.
23. Durrani, Darwaish. Da Ghazal Charagh, p. 306
24. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara, p. 10.
25. Ibid., p. 11.
26. Ibid., p. 26.
27. Zoley Blog. https://zoley.blogfa.com. Accessed 18May 2026.
28. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara, p. 21.
29. Ibid., p. 18.
30. Durrani, Darwaish. Da Ghazal Charagh, p. 194.
31. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara, p. 17.
32. Durrani, Darwaish. Da Ghazal Charagh, p. 345.
33. Ibid., p. 358.
34. Ibid., p. 56.
35. Ibid., p. 333.
36. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara, p. 40.
37. Ibid., p. 144.
38. Ibid., p. 34.

39. Ibid., p. 35.
40. Ibid., p. 37.
41. Ibid., p. 39.
42. Durrani, Darwaish. Da Booti Ba Long Shi. United Press, Quetta, 2009, p. 35.
43. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara, p. 84.
44. Durrani, Darwaish. Da Ghazal Charagh, p. 351.
45. Durrani, Darwaish. Pa Kani Ke Hendara, p. 47.
46. Ibid., p. 25.
47. Durrani, Darwaish. Da Ghazal Charagh, p. 82.
48. Ibid., p. 81.
49. Ibid., p. 307.
50. Ibid., p. 343.
51. Ibid., p. 343.